نورمحمد غفوری

# جبهه او ائتلاف

## ۱. سریزه:

زموږ په ګران هیواد افغانستان کې په دې وروستیو کلو کې د دموکراسی تمرین کیږی او دولت په زور او هم دقانون له لارې د ګوندونو د سیاسی فعالیت مخه نه نیسی. د هیواد په اساسی قانون کې تر ډیرې کچې دموکراتیک ارزښتونه تسجیل شوی او سیاسی پلورالیسم منل شوی دی. د ګوندونو د فعالیت او دموکراتیکو آزادو ټاکنو قوانین هم تصویب شوی. د سیاسی مبارزې د ټولو وسیلو او تکتیکونو په لړ کې د همدې قانونی امکاناتو څخه د ګټې پورته کولو په خاطر ګوندونه راجستر شوی، تر څو چې خپلو مرامی موخو ته د رسیدو له پاره په قانونی او مصئونه فضا کې په ښه توګه سوله ایز سیاسی فعالیت وکولای شی.

دګډو هدفونو د ترلاسه کولو له پاره د دوو او یا څو ګوندونو سازمانی یووالی او د جبهو او یا ائتلافونو جوړول هم د دموکراسی له رواجی سیاسی پروسو څخه شمیرل کیږی. په هیواد کې اوس د ګډو هدفونو د ترلاسه کولو په خاطر د ګوندونو او سیاسی سازمانونو د وحدت او یا د عمل د یووالی موضوع توده ده. زه غواړم په دې لیکنه کې د جبهې او ائتلاف په اړه خپل راسره او راټول کړی معلومات له درنو لوستونکو سره شریک کړم.

## ۲. تعریفونه:

**.2.1** جبهه عربی لغت دئ چې د **(Front)** په ځای چې اصلي ولیې یې د لاتینی **(*frons*)** څخه راوتلی، کارول شوئ او زموږ په هیواد کې په پښتو او دري ژبو کې رواج شوئ دی لغوي مانا یې د مخ تندئ، مخکې ځای ، دجګړې لومړی لیکې، د خلکو ټوله او داسې نورې دی. جبهه د پوځي، اقتصادي، اجتماعي او سیاسي لحاظه په بیلا بیلو ډولونو تعریف شوې. د سیاسی لحاظه هم د جبهې له پاره تعریفونه یوله بله مختلف دی. ویلای شو چې جبهه د سیاسی

ګوندونو او شخصیتونوهغې ډلې ته وایی چې د مشترکو هدفونو د ترلاسه کولو له پاره د ټاکلي (لنډې او یا اوږدې) مودې له پاره سره یوځای شوی وي. یاپه بل عبارت، جبهه د انسانانو هغه ډلې ته وایی چې د شریکو ارزښتونو لرونکي وی او د ګډو هدفونو د ترلاسه کولو له پاره یوځای مبارزه کوي. جبهه زیار باسی چې د ټاکلو هدفونو د ترلاسه کولو له پاره ټولې مینه والې خواوې او ځواکونه سره یوځای کړی، د عمل وحدت ته یې وهڅوی او تربریایې رهبری کړی.

**۲,۲.** سیاسی ائتلاف (Koalition) : د ائتلاف د لغت ولیې د لاتینی (coalitio) له کلمې څخه را وزي چې د یوځای کیدو، یووالی او اتحاد مانا ورکوی. په لنډه توګه ائتلاف د مستقلو جوړښتونو هغه مجموعه ده، چې مشترکې موخې تعقیبوی. ائتلاف په سیاست کې هغه اصطلاح ده چې د سیاسی ګوندونو یا فعالینومقطعی او موقتی یووالی (معمولا دانتخاباتو د یوې دورې له پاره) ښئی. په ډیرو هیوادونو کې سیاسی ګوندونه یو له بله سره د غښتلی دولت او حکومت د جوړولو او یا په اپوزیسیون کې د شریکو هدفونو د ترسره کولو په خاطر د ټاکلی وخت له پاره عملی یووالی کوی. سیاسی ائتلافونه چې په ټاکلې موده کې د مشخصو موخو د تر سره کولو له پاره جوړیږی، د ټاکلو پروتوکولونو او قراردادونو پر بنسټ فعالیت کوی. که چیرې یو او یا بل لوری د منل شوو قراردونو له منځپانګې سرغړاوئ وکړي، کیدای شی چې د ائتلاف د بل لوری لخوا د عمل یووالی ته د پای ټکئ کیښودل شی. دا ډول ائتلافونه کله د یوې انتخابی دورې څخه زیاته موده دوام کوی او کله بیا د هغې مودې تر پایه هم دوام نه شی کولای.

**۲,۳.** پــــــــرتلــــــــه: که د جبهې او ائتلاف تعریفونو او لنډې توضیح ته ځیر شو، ښکاری چې دا دواړه اصطلاحګانې یوشان او یا ډیر سره ورته تعریفونه لری او د یو ډول او یا سره ډیرو نږدې حالتونو او سیاسی فعالیتونو څرګندونه کوی. ددې له پاره چې د دوی ورته والی، تفاوت او د دواړو د کارولو اړتیا ښه څرګنده شی، د هغو تاریخی شالیدته کتنه کوو.

## ۳.تاریخی شالید:

**۳. ۱. جبهه:** د جبهې د اصطلاح را منځته کيدل اوږده تاريخی سابقه لری چې په اروپا کې د ۱۸۴۸- ۱۸۴۹ کلونو انقلاب ته رسيږی. د ۱۸۴۸/۴۹ ميلادی کلونو په انقلاب کې چې د اروپا ډير هيوادونه يې په غيږ کې نيول، بيلابيلو ټولنيزو طبقو او سياسی ګوندونو د ډول ډول ايديالونو پر بنسټ د خپلو خپلوموخو د ترلاسه کولو له پاره برخه اخيستې وه. په دې انقلاب کې انقلابی سوسياليستانو، راديکال دموکراتانو، انارشيستانو او د ټولنيزو سياسی بدلونونو غوښتونکو نورو طبقو او قشرونو ګډه برخه لرله. د انقلاب مسلطه ايديولوژی لبراليسم وو او غوره هدف يې د بورژوازی دموکراتيکو ريفورمونو او سياسی آزاديو لاسته راوړل ووچې تر څنګ يې نورو ملی، ښيو او کينو انقلابی ځواکونو د ځينو سرحدی او ملی ستونځو د حلولو او يا د راديکالو هدفونو د ترلاسه کولو له پاره هم هڅې کولې.

د طبقاتی مبارزې د مارکسيستی تحليل او نظريو پر اساس د کارګرانو او بورژوازانو طبقی نه پخلاکيدونکي (انتاګونيستی) طبقې دی چې بايد يو له بله سره دوامداره مبارزه وکړی. خو د ۱۸۴۸ او ۱۸۴۹ کلونو د انقلاب په بهير کې مارکس او انګلس دواړو دا موضوع طرحه کړه چې بايد پرولتاريا له بورژوازی سره د انقلاب په بريا کې مرسته وکړی، آزادی غوښتونکي پانګوال د ځان خواته راکش او ملګری کړی چې د بورژوا دموکراتيکو حقوقو د ترلاسه کولو له پاره يوځای غښتلې مبارزه وکړی؛ ځکه چې د بورژوازي آزاديو د ارزښتونو اهميت د پانګوالو او کارګرې طبقې دواړو له پاره خورا زيات دی. د بلې خوا مارکس او انګلس داسې انګيرل چې د کارګر طبقه او د هغې مخکښ سياسی اوانګارد ښايی وکولای شی چې بورژوازی انقلاب ته په پرولتاری انقلاب وده ورکړی. په داسې حال او داسې وخت کې د سياسی او په تيره بيا د چپو سياسی ګوندونو ترمنځ د مشترکو موخو د ترلاسه کولو له پاره د نورو (بورژوازی) ګوندونو سره د جبهې جوړولو موضوع پخپله د کارل مارکس او فريدريک انګلس لخوا طرحه شوې ده.

د روسيې د اکتوبر تر انقلاب وروسته په ۱۹۱۹ م کال کې کمونستی انترناسيونال (کومينټرن) د شوروی اتحاد د کمونست ګوند په مشری او نوښت غونډه وکړه. په دې غونډه کې د سوسياليستانو، سوسيال دموکراتانو او نورو چپيانو پر ضد د مبارزې شعار په داسې حال کې پورته شو چې د هغو ډيرو برخو د کارګری جنبش سره ټينګ تړاو درلود.

تر ډیره وخته، ان د فاشیسم د راپورته کیدو تر کلونو هم، دې وضعیت دوام وموند. په کومینترن کې غړو کمونستی گوندونو د شوروی اتحاد د کمونست گوند د مسلطو افکارو تر اغیزې لاندې د کارگری، بزگری او بورژواژی جنبش غیر کمونستی ډلې، په تیره بیا سوسیال دموکراتان خپل اصلی دښمنان بلل او هغوی یې ان د «سوسیال فاشیسم» په نامه یادول او ټکول.

کله چې په ۱۹۳۳م کال کې په آلمان کې فاشیستانو د ملی سوسیالیسم (ناسیونال سوسیالیسم) تر نامه لاندې سیاسی ځواک ونیو، د کمونستانو تر څنگ یې سوسیال دموکراتان او چپ بورژوازی ځواکونه هم بندیخانو او فاشیستی پنډځایونو (Konzentrationslagern) ته واچول. په دې وخت کې کمونستان د خپل سیاست غلطی ته متوجه شول او کومینترن د ۱۹۳۴ م کال وروسته د نوی سیاست د طرحه کولو فکر وکړ. د کارگری او کمونیستی گوندونو سره د فاشیسم په وړاندې د بزگری او چپو بورژوازی گوندونو د عمل د یووالی او جبهو جوړولو نظریه راپورته او غښتلې شوه. په ځینو هیوادونو کې (لکه فرانسه) د کمونستانو او سوسیالستانو تر منځ د گډو فعالیتونو له پاره پروتوکولونه لاسلیک او جبهې جوړې شوی. کومینترن په ۱۹۳۶ م کال کې پخپله اومه نړیواله کنگره کې د (سوسیال فاشیزم) له ایدیولوژیکی طرحې څان راویوست. د کومینترن د فعال او پیژندل شوی شخصیت او د بلغاریا د کمونست گوند د لارښود (گیورگی دیمیتروف Georgi Dimitrow ) په مشری یې له سوسیالیستانو، سوسیال دموکراتانو او نورو بورژوازی چپو گوندونو سره د فاشیسم پر ضد د متحدې جبهې لاره ونیوه. د گډو هدفونو له پاره یې د واحد عمل هڅې غښتلې کړې او د اوږدې راتلونکې له پاره یې د پراخه پروگرام پر بنسټ په بیلا بیلو هیوادونو کې د واحدو غښتلو گوندونو د جوړولو نظریه وړاندې کړه. ***د گډو هدفونو د ترلاسه کولو په خاطر د کارگری کمونستی گوندونو، بزگری گوندونو، سوسیالیستانو، سوسیال دموکراتانو او نورو سیاسی جوړښتونو ترمنځ د عمل یووالی د جبهې په نامه و بلل شو.*** ډیرې دا ډول جبهې د کمونستو گوندونو تر لارښونه لاندې رامنځته شوې او د (خلقی جبهو) په نامه یادې شوې. په هسپانیاکې د همداسې مفکورې پر بنسټ د رامنځته شوې خلقی جبهې له برکته په ۱۹۳۶- ۱۹۳۹ کلونو کې کمونستانو په تاریخ کې د لومړی ځل له پاره په اروپایی هیواد کې په حکومت کې د ائتلاف له لارې ونډه تر لاسه کړه.

د کومینترن د نوی سیاست تر اغیزي لاندې په ۱۹۳۶/۱۹۳۷ م کلونو کې په فرانسه کې، په ۱۹۳۶م کال په هسپانیا او چیلی کې ، په ۱۹۴۱ م کال په یونان کې او همداراز په ځینو نورو هیوادونو کې هم د خلقی جبهو د بنسټ ډېرې کیښودل شوې. د دوهمې نړیوالې جګړې په پای کې د فاشیسم له تیری څخه د شرقی اروپا د هیوادونو د آزادۍ او له شوروی اتحاد سره د هغو داړوندتوب په پایله کې تر ۱۹۴۵ کال وروسته د خلقی جبهو جوړولو او د هغو د فعالیتونو منځپانګې کیفی بدلونونه وموندل او په ډیرو هیوادونو کې د (پلاروطني جبهې) په نامه او په ځینو کې په نورو نومونو (لکه ملی جبهې) ونومول شوې. دداسې جبهو د ملاتیر د کارګری او بزګری ګوندونو څخه جوړ وو چې ورپکې نورو فاشیستی ضد ځواکونو هم ونډه لرله؛ خو د کمونستو ګوندونو د اوانګارد او رهبرۍ رول ورپکې تأمین وو. . په ځینو هیوادو کې خلقی جبهې د انتخاباتو له لارې هم دولتی واک ته ورسیدې. په ۱۹۷۰/ ۱۹۷۳ کلونو کې د سلوادور الیندی (Salvador Allende) تر مشرۍ لاندې په چیلی کې خلقی جبهې د آزادو ټاکنو له لارې سیاسی ځواک ترلاسه کړ چې د «اوګوستو پینو چیت» (Augusto Pinochet) د خونړی پوځی کودتا په واسطه له منځه ولاړ.

(باید ووایو چې د خلقی جبهو په نامه نور سازمانونه او سیاسی فعالیتونه هم شته چې زموږ له بحث سره تړاو نه نیسی، لیکنه اوږدوی او وخت نیسی، نو ځکه یې له ځیړلو تیریږو.)

**۳. ۲. ائتلاف:** د سیاسی ګوندونو ائتلاف بیا تر ډیرې کچې په غربی هیوادونو او دغربی اروپاپه نورمالو شرایطو کې مطرح شوی او بیایې په نورو هیوادونو کې هم رواج موندلی دی. په غربی هیوادونو کې چې دوه یا څو ګوندونه د دولتی واک د نیولو او ساتلو او یاپه اپوزیسیونی مبارزه کې د ټاکلو هدفونو د ترلاسه کولو له پاره سره یوځای شوی، ائتلافونه یې جوړکړی دی. د هغوی ترمنځ د جبهې اصطلاح رواج نه دی موندلی. د ائتلاف اصطلاح په دې آخرو کلونو کې زموږ د هیواد د سیاسی فعالینو ترمنځ هم لاره پرانیستی او د چپو ګوندونو ترمنځ هم استعمالیږی.

په دموکراتیکو هیوادونو کې د سیاسی ګوندونو ترمنځ دا ډول ایتلافونه ډیر اړین او رواجی دي، ځکه چې ګوندونه په یوازې ځان نه شی کولای چې په انتخاباتو کې دپایداره حکومت د جوړولو له پاره لازم اکثریت تر لاسه کړی. دا ډول ائتلافونه اپوزیسیونی ګوندونو ته په پارلمان کې دا امکان ورکوی چې په ګډه سره، تر جدا جدا فعالیت،

زیاتې چوکۍ ترلاسه کړي او له دې لارې په سیاسي تصمیمونو او پریکړو باندې اغیزه وکړي.

ائتلافونه د مختلفو لارو او ډول ډول موخو د ترسره کولو له پاره منځ ته راځي. د ائتلافونو د موخو او جوړولو د لارو تنوع د هر هیواد د ټولنیزو - سیاسي مشخصو شرایطو، مسلطو قوانینو او سیاسي رواجونو پر بنسټ ولاړه ده. په دې ټول رنګا رنګ والي کې دا موضوع باید په نظر کې ونیول شي، چې ایتلافونه د زور او جبر له لارې نه شي رامنځته کیدای. د ایتلافونو د جوړولو له پاره یوازې د ګوندونو د رهبرانو موافقه هم کافي نه وي، بلکې لازمه ده چې د ګوندي غړو پراخه کتلو ترمنځ متقابل باور او تر نورو زیات شریک هدفونه، ستراتیژۍ او تکتیکونه موجود وي. د کلکو او غښتلو ایتلافونو د رامنځته کیدو له پاره د ګوند د غړو باور او قناعت اړین دی. سیاسي ګوندونه زیار باسي چې د لویو ایتلافونو په جوړولو بریالي شي، تر مخالف لوري زیات ځواک را ټول کړي، تر څو چې د ټاکلې مودې د مشخصو **شریکو هدفونو** د پلي کولو له پاره ځواکونه منسجم کړای شي، خو په دې بهیر کې خپلو ټاکلو ارزښتونو او سیاسي موخو ته ډیر پام کوي او یوازې د همدې اهدافو او ارزښتونو په رڼا او پولو کې ائتلافونو ته حاضریږي.

په ځینو دمکراتیکوهیوادونو کې د ائتلافونو، په ځانګړي توګه د حکومت له پاره د ائتلافونو، د رامنځته کولو له پاره ټاکلي دولتي او حقوقي اصول شتون لري او ګوندونه هغه په نظر کې نیسي؛ خو په نورو هیوادوکې بیا دا سې اصول او تعامل شتون نلري او ګوندونه پخپله خوښه او آزاد ډول یو له بله سره چلند کوي. د ائتلاف له پاره چمتو ګوندونه په لومړي ګام کې پخپل منځ کې لومړنۍ خبرې اترې او یو له بله سره د ټاکلو موخو د منځپانګو پر سر جوړښت کوي. که په دې خبرو اترو کې د ټاکل شوو ګډو موخو په اړه موافقه وشي، نو بیا په رسمي شکل یو له بله سره تړون یا پروتوکول لاسلیک کوي. د ائتلاف د پروتوکولونو د شکل او محتوی په اړه هیڅ قانوني او مخکې جوړ شوې اصول نشته او ګوندونه د هغو د محتوی او شکل په ټاکلو کې آزاد لاس لري. دا هم د ګوندونو خپل واک دی چې د ائتلاف پروتوکول په مطبوعاتو کې خپروي او یا په دې اړه هیڅ اقدام نه کوي.

د دوو یا څو ګوندونو ترمنځ د ائتلاف د پروتوکول د لاسلیک په واسطه دحکومت د چلولو او یا د اپوزیسیون د غښتلی کولو له پاره ائتلافونه رامنځته کیږی. د دولتی ائتلاف لخوا داسې هڅې هم کیږی چې د یوې انتخابی دورې په موده کې د خپلو مؤکلینو د ګټو د دفاع او د ګډو موخو د ترسره کولو له پاره قوانین وضع کړی او د راتلونکې بلې یا څو نورو انتخابی دورانونو له پاره هم ائتلاف ته دوام ورکړی. د ائتلاف د جوړولو له پاره د قرارداد کومه رسمی فورمه نشته، قانونی محدودیت نه لری او ګوندونه د خپل قرارداد په اړه پخپله آزاد فکر کولای او تصمیم نیولای شی. د ائتلاف شریک ګوندونه کولای شی چې خپل سندونه او قرارداد علنی او نشر کړی، خو په دې اړوند قانونی مکلفیت او مجبوریت نه لری.

## ٤. پـــــــــایلـــــــــه:

په لنډه توګه داسې ویلای شو چې د جبهې او ائتلاف اصطلاحګانې د شریکې او یا ډیرې ورته منځپانګې لرونکی دی، خو د رامنځته کیدو له پاره یې لاندې غوره بیلوونکې او ګډې علامې په نظر کې نیولای شو:

الف: په لومړیو وختو کې جبهه په عمل کې د چپو سیاسی ګوندونو اتحاد وو چې په ۱۹۳۰ میلادی کلونو کې یې د کمینترن له خوا طرحه وشوه او په هغو کې د کارګری او کمونیستی ګوندونو یووالی او اتحاد له بزګری ګوندونو، سوسیال دموکراتانو، بورژوازی چپیانو او نورو سره مطرح شو. ائتلافونه بیا د تاریخی لحاظه د پانګوالی رژیم د ګوندونود عمل له یووالی سره زیات اړوندتوب لری چې وروسته یې د کارولو ډګر پراخ شوی دی.

ب: د جبهو بله غوره بیلوونکې علامه د هغوی د رامنځته کیدو شرایط بللای شو. جبهه او د جبهې اصطلاح له همغه اولو تاریخي شیبو په انقلابی او جنګی شرایطو کې رامنځته شوې او وروسته هم د فاشیسم په ضد جګړه کې پخه او پراخه شوی ده. د جبهې اصطلاح د سیاسی محتوی تر څنګ جګړه ایزه منځپانګه هم لری چې د انقلابی تګرونو او له فاشیسم سره د جګړې په وخت کې د جګړې د جبهو د ساتلو او غښتلی کولو له پاره اړینه بلل کیده. ائتلافونه او د ائتلاف اصطلاح له جګړه ایزو شرایطو سره مستقیمه اړیکه نه لری او د نورمالو اجتماعی- سیاسی شرایطو زیږنده دی.

ج: د جبهې اصطلاح په غوره ډول د شرقي اروپا په هېوادونو او په سوسیالیستي کمپ کې رواج شوه، چې وروسته بیا په نورو هېوادونو، په دې لړ کې زموږ په ټاټوبي کې هم معمول شوه. اوس په افغانستان کې د مذهبي ګوندونو له خوا هم د اتحادونو او هم د یوه ځانګړي تنظیم د نامه له پاره ترې کار اخیستل کیږي؛ په داسې حال کې چې ائتلافونه په غربي دموکراسیو کې دبیلو بیلو ګوندونو ترمنځ د ګډو موخو د لاسته راوړو له پاره منځ ته راغلي اوپه نورو هېوادونو کې معمول شوي دي.

د: په جبهو او ائتلافونو کې معمول دادي، چې هغه ګوند یې په سر او رهبري کې قرار لري چې ټولنیز نفوذ او سیاسي ځواک یې ډیر وي. د حکومت د جوړولو په وخت کې هغه ګوند ته د ائتلاف د جوړولو دنده ورکول کیږي چې د ټاکنو ګټونکئ او تر نورو ډیرې رایې یې وړي وي. په اپوزیسیون کې هم په ائتلاف کې د غښتلي او نسبتا زیات نفوذ لرونکي ګوند برخه ډیره وي.